زما دوست او ملګري صلى الله عليه وسلم وسلم راته په درېو کارونو وصيت کړی دی: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول او دا چې له وېده کېدو وړاندې وتر وکړم

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې: زما دوست او ملګري صلى الله عليه وسلم وسلم راته په درېو کارونو وصيت کړی دی: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول، د څاښت دوه رکعته لمونځ کول او دا چې له وېده کېدو وړاندې وتر وکړم.

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

ابوهريرة رضي الله عنه خبر ورکوي چې دوست يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د دريو خويونو په درلودلو وصيت کړی دی: لومړی: له هرې مياشتې څخه درې ورځې روژه نيول. دويم: هره ورځ د څاښت دوه رکعته لمونځ کول. دريم: له وېده کېدو وړاندې وتر کول، د هغه چا لپاره چې وېره لري د شپې په وروستۍ برخه کې نه شي راويښېدلی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4538